## بسم الله الرحمن الرحيم

## د بحرين کنفرانس او د پېړۍ معامله

**پوښتنه:**

د بحرين اقتصادي کنفرانس نن د کوشنر تر مديريت لاندې ترسره شو. په منامه کې نوموړي په خپله پرانېستونکې وينا کې وويل: «د بحرين ناسته د پېړۍ معامله نه، بلکې د پېړۍ فرصت دی...» (سپوتنيک عربي ويب سايټ، ۲۵/٦/۲۰۱۹). ايا دغه کنفرانس د پېړۍ د معاملې يوه برخه ده؟ او که يو جلا پروژه ده لکه کوشنر يې چې يادونه وکړه؟ نوموړي ولې د معاملې منځپانګه په ډاګه نه کړه؟ ايا تر اوسه په دې اړه کوم څه افشا شوي دي؟ د بريا شونتيا يې څومره ده؟ الله سبحانه تعالی دې تاسو ته د نېکيو بدله درکړي.

**ځواب:**

د دې لپاره چې ځواب روښانه شي، اړتيا ده چې لاندې مسايلو ته اشاره وشي:

**لومړی: د بحرين کنفرانس**

۱- پرون سپينې ماڼۍ اعلان وکړ چې دوی به د راتلونکې مياشتې په وروستيو کې د بحرين په پلازمېنه منامه کې يو اقتصادي کنفرانس جوړ کړي، چې د ولسمشر ټرمپ د منځني ختيځ د سولې د پلان اقتصادي برخه به پکې اعلان شي. (منځنی ختيځ ويب سايټ، ۲۰/۵/۲۰۱۹)

۲- د بحرين تر کنفرانس وړاندې د ۲۰۱۹م کال د جون پر ۲۲مه کوشنر د سولې د پلان اقتصادي برخه په ډاګه کړه. په پلان کې موخه د پنځوسوو ميلياردو ډالرو په ارزښت د نړيوالې پانګونې بنسټ ايښودل و، څو د فلسطين او ګاونډيو عربو هيوادونو اقتصاد بيا را ژوندی شي، همداراز د پنځو ميلياردو ډالرو په ارزښت د غزې تړانګې او لوېديځې غاړې تر منځ يو ترانسپورټي دهليز جوړول هم د دې پلان برخه ده. ( فرانس ۲۴، ۲۴/٦/۲۰۱۹) پای.

۳- د ۲۰۱۹م د جون پر ۲۵مه د بحرين کنفرانس جوړ شو چې د واشنګټن او منامې له لوري را بلل شوی و. دا کنفرانس د نېکمرغۍ لپاره د سولې په ورکشاپ ونومول شو، ترڅو د فلسطيني خاورې لپاره پانګونې ته پانګوال وهڅوي. (بي بي سی، عربي ويب سايټ، ۲۵/٦/۲۰۱۹)

۴- جارډ کوشنر چې د امريکا د ولسمشر مشاور او زوم دی په منامه کې يې د بحرين ورکشاپ پرانيست او دا د فلسطين لپاره اقتصادي پرمختيايي ناسته ده. کوشنر په لوېديځه غاړه او غزې تړانګه کې د امريکا د پنځوسو ميلياردو ډالرو په ارزښت پرمختيايي پلان په اړه ځينې جزيات په ډاګه کړل، هغه پلان ته په اشارې سره وويل، چې په دې سره د فلسطين ناخالص داخلي توليد دوه چنده کېږي او دندې ورسره زياتېږي. (ار تي اژانسونه، ۲۵/٦/۲۰۱۹)

۵- د امريکا د ولسمشر مشاور جارډ کوشنر وويل: «واشنګټن به د سياسي حل لارې لپاره يو پلان هغه وخت اعلان کړي چې تيار شي. کوشنر چهارشنبې په يوې څرګندونې کې وويل: «د بحرين کنفرانس ښيي چې د منځني

ختيځ ستونزه په اقتصادي ډول د حل وړ ده». دا هغه څه دي چې نوموړي یې ادعا کوي... ده دغه څرګندونې د بحرین د اقتصادي ورکشاپ په وروستیو کې وکړې، چې سې شنبه پیل شوی و او نن یې د بحرین په پلازمېنه منامه کې دوام درلود... (د العلم تلویزیون ویب سایټ، ۲۰۱۹/۶/۲۶)

٦- په وروستۍ څرګندونه کې راغلي دي، چې د نېکمرغۍ لپاره د سولې د ورکشاپ ګډون والو د چهارشنبې په ماښام د فلسطینیانو د ښېګڼې لپاره د پرمختګ او پانګونې پر تقویې ټینګار وکړ ترڅو اقتصادي وده په لاس راشي... په څرګندونه کې راغلي دي چې ورکشاپ په دې ټکو: «د فلسطیني خلکو د ښېګڼې په موخه د اقتصادي ودې او پانګونې په اړه په زیاتې خوشبینۍ او هیله مندۍ پای ته ورسېد ». د وروستۍ ورځې د خبرو اترو تمرکز د ښځو د ځواکمنتیا له لارې د کاري ځواک پر پراختیا او له هغو ځوانانو سره د اغېزمنو اړیکو پر اهمیت را څرخېدې، چې د وزګارتیا له لوړې کچې سره مخ دي. کوم اقتصادي پلان چې د کوشنر له لورې سې شنبه وړاندې شو موخه یې په فلسطیني سیمو کې د پانګونې له لارې ۲۸ میلیارډه ډالرو تزریق او د اردن، مصر او لبنان  لپاره د ۲۲ میلیارد ډالرو اضافي پانګونې په موخه (مرستې او کومکي پور) دی کوم چې د فلسطیني کډوالو کوربانه دي. (انادولو اژانس، ۲۰۱۹/۶/۲۷)

په دې ډول دا کنفرانس یو پیلامه ده ترڅو داسې فضا را منځته کړي چې د پېړۍ معامله د اعلان پر مهال د منلو وړ وګرځي. یا په بله وینا دا د ټرمپ د تګلارې لمخې د سیمې عربو او غیر عربو خاینانو ته یو ډول مالي رشوت دی، تر څو د ټرمپ مرګونې معامله خپلو هیوادونو ته یوسي، ایا دوی دا نه شي درک کولی؟!!

**دوهم: د پېړۍ هوکړه او په تړاو یې افشا شوي موارد**

1. امریکا د دوو دولتونو حللاره له ۱۹۵۹ راهیسې د ایزنهاور(**Eisenhower**) په وخت کې جوړه کړې وه او بیا یې یاده پروژه پیل کړه. جمال عبدالناصر یې د دې پروژې د پلي کېدو په برخه کې په دنده وګماره. امریکا په ۱۹۶۴ کې د احمد الشقیري تر مشرتابه لاندې د جمال عبدالناصر پر مټ د فلسطین د آزادۍ غورځنګ (PLO) تاسیس کړ... د ۱۹۶۷ کال له ماتې وروسته شقیري یاد غورځنګ پرېښود. برتانیې په ۱۹۶۸ کال کې د خپل لاسپوڅي شاه حسین او د خلیجي دولتونو د ملاتړ له لارې یاد غورځنګ تنظیم او یاسر عرفات ته یې د یاد غورځنګ مشري  ور د غاړې کړه- چا چې د برتانوي حللارې ملاتړ یې کاوه یعنې د فلسطین لپاره یې د یو سیکولر دولت غوښتنه کوله. یاسر عرفات په ۱۹۶۵ کې د خپلو دغو بادارانو په ملاتړ د فتح غورځنګ جوړ کړ. دی له برتانوي حللارې څخه په مصر کې د انور سادات او په سوریه کې د حافظ الاسد چې د امریکا لاسپوڅي وو، دفشارونو له امله پرشا شو او امریکایي حللاره یې ومنله. په ۱۹۷۴ کې عرب لیګ د فلسطین د خلکو لپاره د فتح غورځنګ د یوازېني مشروع  او استازي غورځنګ په توګه په رسمیت وپېژاند او ملګرو ملتونو هم یاد غورځنګ په رسمیت وپېژاند او په یاد سازمان کې د

ځارونکي غړي په توګه یې ومانه. په ۱۹۸۸ کې عرفات په رسمي توګه یهودي اداره په رسمیت وپېژانده، یعنې ده هغه دولت چې ۸۰سلنه د فلسطین خاوره یې په زور نیولې ده، ومانه. کله چې ده د فلسطیني دولت بنسټ اعلان کړ، نو په رسمي توګه یې په فلسطین کې امریکایي پروژه و منله چې وایي: « دوه دولتونه د دوو ملتونو لپاره ».

د اوسلو هوکړه په ۱۹۹۳ کې لاسلیک شوه او د فلسطین د ازادۍ د غورځنګ په مشرۍ فلسطیني اداره په دې موخه رامنځته شوه چې په ۱۹۹۹ کال کې به یو فلسطینی دولت تاسیسوي. د بیل کلینټن په پېر کې، امریکا ونه توانېده چې یاده پروژه پلې کړي. کله چې کشر جورج ډبلیو بوش راغی، عرب لیګ په ۲۰۰۲ کال کې تش په نامه د سعودي پلان چې د عرب پلان په نامه هم شهرت لري، تصویب کړ. یاد پلان ښیي چې عربي دولتونه چمتو دي چې یهودي اداره داسې مهال په رسمیت وپېژني، چې اسراییل خپل څنګ ته یو فلسطینی دولت ومني. وروسته په ۲۰۰۳ کال کې امریکا د فلسطین لپاره د یو سرک نقشه جوړه کړه چې دهغې له مخې په ۲۰۰۵ کال کې به فلسطیني دولت جوړېږي او د منځني ختیځ لپاره یې څلور اړخیزه ډله جوړه کړه، خو هغه ډله هم ونه توانېده چې یو فلسطینی دولت رامنځته کړي. د یادې څلور کسیزې ډلې سترګې د اوباما لوري ته وې چې د دوو دولتونو حللارې پلان پلی کړي. په ۲۰۰۹ او په ۲۰۱۳ کې دوه ځلې مذاکرات پیل شوه خو دواړه ځل ناکامه وو. د امریکا ټولو ولسمشرانو د دوو دولتونو حللارې پلان پلي کولو لپاره هڅې کړې دي، خو ناکامه شوي دي. کله چې ټرمپ واک ته ورسېد، امریکا د دوو دولتونو حللارې پلان په پلي کولو کې پاتې راتګ د دې لامل شو چې یاد پلان ته بدلون ورکړي او یا یې تعدیل کړي. د امریکا کانګریس په ۱۹۹۵ کال کې یوه پرېکړه تصویب کړه چې له مخې یې بیت المقدس د یهودي دولت پلازمینې په توګه په رسمیت پېژني، خو پر ولسمشر باندې د یادې پرېکړې پلي کول حتمي نه و، دا پرېکړه یې پرېښوده چې راتلونکی ولسمشر له خپل صلاحیت څخه په کار اخیستو سره څه ډول چې یې خوښه وي، پلې یې کړي.

2. ټرمپ د لوړې تر مراسمو وروسته د دې پلان په پلي کېدو پیل وکړ. ده په یوه وینا کې وویل چې د اسراییلو –فلسطین د شخړې پای ته رسېدو لپاره د دوو دولتونو حللاره یوازېنی بدیل نه دی، ده وویل چې دی چمتو دی چې یو بل بدیل غوره کړي، چې د دوی د سولې لامل ګرځي. ټرمپ وویل: (زه د دوو دولتونو او یو دولت په اړه نظر لرم، که د دواړو غاړو خوښه وي زه یو دولت غوره ګڼم... که اسراییل او فلسطینیان یو دولت غواړي، زما لپاره د منلو وړ دی)، ده زیاته کړه، که دوی دوه دولتونه غواړي، زما لپاره دا هم د منلو وړ ده. زه خوښ یم چې دوی خوښ وي.) (الجزیره ۲۰۱۷/۲/۱۶). تر دغو شنو ځراغونو وروسته، ټرمپ له تل ابیب څخه امریکایي سفارت بیت المقدس ته ولېږداوه. د ۲۰۱۷ کال په سپټمبر کې ټرمپ

اعلان وکړ چې بیت المقدس د صهیونیستي اداري یوه برخه ده... ټرمپ وروسته د فلسطین او صهیونیست رژیم د شخړې په تړاو هڅې پیل کړې او صهیونیست رژیم وروستۍ یا د پېرۍ هوکړې ته دننه شو. وروسته جارد کوشنر د ولسمشر ټرمپ زوم او ستر سلاکار او د منځني ختیځ لپاره د ولسمشر ځانګړی استازی جیسن ګرینبلټ د پیړۍ هوکړې ته په پراختیا ورکولو باندې پیل وکړ... کوشنر د ۲۰۱۹ کال په فبروري کې د خپل پلان د ملاتړ لپاره ګڼو هیوادونو ته سفر وکړ. ده د سعودي له ولیعهد محمد بن سلمان، د ۲۰۱۹ کال د اپرېل پر۲۷ مه یې له اردوغان سره په انقره کې، د عربي متحده اماراتو له مشرانو، بحرین او عمان له چارواکو سره ناستې ترسره کړې.

یادې ناستې په دې موخه ترسره شوې چې په سیمه کې د چارواکو ملاتړ راخپل کړي... د ټرمپ اداري وروسته ژمنه وکړه چې یاد پلان به په نیویارک کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د ۲۰۱۸ کال په سپټمبر کې وړاندې کړي... خو پلان د ۲۰۱۹ کال تر پیل پورې وځنډېد، ځکه چې د صهیونیستي رژیم ټاکنې د ۲۰۱۹ کال مې میاشتې ته وځنډېدې... د روژې په مبارکه میاشت کې، ټرمپ وویل چې دی به یاد پلان د روژې میاشتې وروسته د ۲۰۱۹ کال په جون کې اعلان کړي... اوس پلان د ۲۰۱۹ کال نومبر میاشتې ته وځنډېد وروسته تر هغې چې یهودي ټاکنې ترسره شي. ټرمپ د نتنیاهو په تړاو اندېښنه لري چې په لومړي پړاو ټاکنو کې بریالی نشو او اوس دوهم پړاو ټاکنو ته ولاړ، له همدې امله ټرمپ د یادې هوکړې اعلان وځنډاوه... ټرمپ د سپینې ماڼۍ په مخ کې کله چې د برتانیې په لور تلو، په یو بیان کې په اسراییلو کې د روان سیاسي حالت په تړاو وویل، د نتنیاهو تر ناکامۍ وروسته چې ویې نشو کولی حکومت تشکیل کړي او چهارشنبې یې وروستۍ نېټه وه ، اوس د سپټمبر په میاشت کې نوو ټاکنو ته ځي چې دا یو ( ناوړه حالت) دی... ده وویل: «بی بي(**Bibi**) غوره شوه او اوس به دوی بیا ځلې ټوله ټاکنیزه پروسه په سپټمبر کې ترسره کوي... دا د خندا وړ ده او موږ له دې څخه خوښ نه یو.» (روسیه ټوډې، ۳/٦/۲۰۱۹]

**له همدې امله ټرمپ خپل پلان چمتو کړی دی، دی له یوه لوري د پلان په پرمخ بېولو خوښ خو لالهانده هم دی، باوري دی چې له ده څخه مخکنی ولسمشر د پلان په پلي کولو کې ناکامه شوی دی، دی اوس فکر کوي چې د دوو دولتونو حللاره به د پېړۍ هوکړې تر چتر لاندې حل او فصل کړي... که د الله سبحانه وتعالی خوښه وه دا به هم ناکامه شي لکه څرنګه چې د دوو دولتونو حللاره ناکامه شوې وه.**

**دریم:د معاملې او مخفي معلوماتو د افشا کولو ناڅرګندتیا:**

۱-ټرمپ هیره کړې یا یې د دې تکل کړی چې  دا هیر کړي چې فلسطین د مسلمانانو په زړونو او مغزونو کې ستر ځای لري او دوی به دا معامله و نه مني، خو دوی به یې په زغرده او نېغ په نېغه  ځواب ورکړي. که څه هم ټرمپ په دې اند و چې د فلسطینیانو د تشویق په موخه  د میلیاردونو پیسو اقتصادي پروژه به یې فلسطینیان و غولوي او دوی به هوکړې ته غاړه کېدي. په همدې موخه ده جزییات په ډاګه نه کړه او د بحرین کنفرانس یې د پېړۍ تر معاملې وړاندې په لاره واچوه، ترڅو له دې لارې هوکړې ته شرایط برابر کړي.

۲-د دې پېړۍ د معاملې د افشا کولو په تړاو ځینې پټ معلومات شتون لري او داسې ښکاري چې د هغوی افشا کول په پلان کې دي او دوی هغه څه ته نږدې دي چې د پېړۍ په معامله کې چمتو کېږي. ډېر دغه پټ معلومات د یهودي ورځپاڼو له لوري په ډاګه شوي وو، په ځانګړې توګه د اسراییل حایوم له لوري په ۲۰۱۹/۵/۷ کې. د شیلډون اډیلسن لخوا د دغې ورځپاڼې په خپاره شوي راپور کې چې نتانیاهو ته نږدې او د ټرمپ د ټاکنیز کمپاین پر مهال د هغه مالي ملاتړی و، د دغو افشاکونو او څرګندونو په تړاو راغلي دي:

« هوکړه: درې اړخیزه هوکړه چې د اسراییلو، د فلسطین د ازادۍ غورځنګ او حماس ترمنځ ترسره کېدونکې ده او فلسطیني دولت ته چې د نوي فلسطین نوم به ورکول شي، د لوېدیځې غاړې او غزې تړانګې په سیمه کې به جوړېږي او د یهودو شته تاسیستات او ودانې به ترې وځي.

- د خاورې تخلیه: شته بلاکونه به په خپل خای پاتې کېږي چېرته چې وي او له هغو بلاکونو سره به ونښلول شي چې بېل شوي دي، پراختیا ته به یې وده ورکوي او دغه لړۍ به یو په بل پسې دوام کوي او واک به یې د یهودي دولت په لاس کې وي.

-بیت المقدس: بیت المقدس به نه وېشل کېږي، د اسراییلو او فلسطین ترمنځ به ګډ وي او عربي وګړي به نوي فلسطین ته لېږدول کېږي او د نوي رامنځته شوي فلسطین وګړي به ګڼل کېږي، نه د اسراییلو. د بیت المقدس ښاروالي به هراړخیزه او د بیت المقدس د ټولې خاورې مسولیت به یې په غاړه وي، پرته له ښوونې او روزنې څخه او دا به خپله د نوي رامنځته شوي فلسطین له مسولیتونو ګڼل کېږي. نوی رامنځته شوی فلسطین به د فلسطیني کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې او کارونو اژانس(UNRWA) مالیه یهودي بیت المقدس ښاروالۍ ته ورکوي( مالیه چې د اپارتمانونو، ځمکو او اوبو پر کاروونکو لګول کېږي).

-غزه: مصر به فلسطین ته نوې ځمکه د هوایي ډګر او کمپنیو جوړولو او د سوداګریزو او کرهنیزو معاملاتو د راکړې ورکړې  په برخه کې ورکړي، له دې پرته چې فلسطینیانو ته په کې د اوسېدو اجازه ورکړي.

-پوځ: نوی فلسطین د نوي پوځ رامنځته کولو څخه منع کېږي او یوازېنی وسیله  چې دوی به یې په واک کې لري د پولیسو ځواک به وي.. حماس به خپلې وسلې او جنګې اسلحې لمنځه وړي یا به ځان بې وسلې کوي ان د شخصي وسلو په ګډون به یې مصریانو ته  سپاري. په بدل کې به یې د حماس وګړې له عربي هیوادونو څخه میاشتنۍ تنخوا ګانې ترلاسه کوي... له هوکړې یو کال وروسته به د فلسطیني دولت لپاره ټاکنې ترسره کېږي... تر ټاکنو یو کال وروسته به، د دریو کلونو په ترڅ کې په تدریجي ډول بندیان خوشي کېږي.

د پنځو کلونو په ترڅ کې به یو فلسطینی بندر او هوایي ډګر جوړ شي او تر هغه وخت به فلسطینیان د اسراییلو له هوایي ډګره او بندره ګټه اخلي... د اسراییلو او فلسطین ترمنځ سرحد به د دوستو هیوادونو په څېر پرانیستی وي... هوایي پل به جوړېږي چې له مځکې د پاسه به ۳۰ متره لوړوالی لري، غزه او لوېدیځه غاړه به سره نښلوي. د دې پروژې چارې به چینایي کمپنۍ ته په ترتیب سره ۱۰ سلنه چین، ۱۰ سلنه جاپان، ۱۰ سلنه جنوبي کوریا، ۱۰ سلنه استرالیا، ۱۰ سلنه کاناډا او ۱۰ سلنه په ګډه امریکا او اروپایي اتحادیې ته سپارل کېږي.

د اردن تنګی د نن په څېر د اسراییلو په ولکه کې پاتې کېږي او تر ۹۰ لارو وروسته به یو سرک ګرځي او ۴ نرې لارې به ترې وځي چې اسراییل به دغه وېش ځاري او دوه سرکونه چې په فلسطینیانو پورې اړه لري، هم ځاري چې فلسطین به له اردن سره نښلوي ...

که څه هم دغه افشا او څرګندونې له رسمي ادرس څخه نه دي، خو واقعیت یې د یوې یهودي ورځپاڼې څخه په ډاګه کېږي چې مشر یې شیلډون اډولسن دی، د ټرمپ د ټاکنیز کمپاین ستر مالي ملاتړی او له نتانیاهو سره نږدې اړیکې لري. دا ټولې ادعاوې هغه څه دي چې د ټرمپ  او د هغه د مزدورانو اندونو ته انعکاس ورکوي ... د سپېڅلې خاورې په اړه تر دغو څرګندونو لا  ډېر خیانت کوي، ان عرب او غیر عرب خاینان هم په کې ښکېل دي او سخته ده چې دا معامله ومني. دوی د دوو دولتونو تر منځ حللاره غواړي، چې دا په خپله خیانت دی ځکه فلسطین، یانې ټول فلسطین د یوې اسلامي خاورې برخه ده چې باید خپلو خلکو ته بیا په واک کې ورکړل شي، پرته له دې چې یوه لوېشت او یوه ډله خلک دې ترې بېل شي، که داسې وشي بیا به دا د ستر خیانت بله بېلګه وي. نو څه ډول بیا د دوو هیوادونو ترمنځ حللاره ومنل شي چې ډېری برخه د فلسطین قرباني کېږي؟ خو عربو او غیر عربو خاینو چارواکو دغه حللاره منلې او دا یې د دوی حق ګڼلی چې دوی به د دولت په توګه پرېږدي او بیرغ چې دوی پرې ویاړي! د ټرمپ دا معامله دوی ته هیڅ اهمیت نه ور کوي. د ټرمپ مشاور کوشنر وویل: دا د پېړۍ معامله تش په نوم د دوو دولتونو ترمنځ حللاره ده او بیت المقدس به د اسراییلو ابدي پلازمېنه وي.(بي بي سي ۲۰۱۹/۵/۲) ان په لوېدیځه غاړه کې تاسیسات او ودانۍ خرابول به دوام کوي کومې چې په لوېدیځه غاړه کې پاتې دي چې تر ۱۲ سلنې نه زیاتېږي او دا هغه برخه ده چې د یهودي بنسټ تر نظامي ولکې لاندې ده.

څلورم: څومره چې د ټرمپ د معاملې په اړه د کامیابۍ هیلې شته، دا معامله به نه شي کامیابه... ان د هغې پرمخ بېوونکي هم، د ده د هلو ځلو ترڅنګ، له دې معاملې څخه د ناکامۍ تمه لري. ټرمپ همداراز وویل، چې د ده د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ښایي په دې ارزونه کې صحیح وي، د امریکایي ادارې له لورې چې په منځني ختیځ کې د سولې کوم پلان پر لاره اچول شوی ښایي له ناکامۍ سره مخ شي. واشینګټن پوسټ د پمپیو هغه خبرې را اخیستي چې کله یې په نیویارک کې د یهودو یوې ډلې مشرانو ته کولې، هغه پلان چې څو ځلې ځنډېدلی ښایي بې حرکته پاتې شي.( اسراییل ټایمز، ۲۰۱۹/٦/۳)

بې عقلۍ ټرمپ تر دې بریده رارسولی چې دی د دې درک نه شي کولی چې فلسطین لا نه خرڅ شوی او نه هم رانیول شوی، دا د مسلمانانو لمړنۍ قبله ده او دا له دریو مسجدونو څخه یو سپېڅلی مسجد دی چې ورته سفر کېږي. دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اسراء لاره ده چې د مسلمانانو د پوځونو پر مټ به ازادېږي، څه وخت چې د الله سبحانه و تعالی خوښه شوه، د مسلمانو سرتېرو په تکبیرونو به بدرګه کېږي او د العقاب بیروغونه به پرې رپېږي. که ټرمپ نن ورځ د رویبیضه(نااهلو او جاهلو) حکامو په لټه کې وي او د هغوی پلویان چې ککړو او چټلو پیسو ته یې په تمه دي، سبا به یوازې د خلافت له تورو سره مخ وي چې د الله په خوښه به له یهودو او د هغوی له ملاتړو سره یانې ښکېلاکګر کافر سره جګړه کوي. دوی به فلسطین د یهودو او د هغوی د ملاتړو له منګولو ازادوي لکه څه وخت وړاندې چې د صلیبیانو له منګولو ازاد شوی و او سبا ډېر نږدې ده او دوی ور ته په تمه دي...

دا چاره به د الله سبحانه و تعالی غوښتنه رېښتنې کړي. په صحیح مسلم کې له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

**«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمْ الْمُسْلِمُونَ» ...**

د قیامت ساعت به تر هغې را نه شي، تر هغې چې مسلمانانو له یهودو سره جګړه نه وي کړې، او وژلي یې نه وي...

**﴿وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ﴾**

[ص:۸۸]

ژباړه: او لږ وخت به تېر شي، چې تاسو ته به دغه حقیقت معلوم شي

**۱۴۴۰هـق، د شوال ۲۴مه**

**۲۰۱۹م، د جون ۲۷مه**